۱۳۹۴/ د مرغومي لومړۍ

خبرپاڼه

کابل – د ټاکنيز نظام ځانګړي کميسيون حکومت ته د خپل دويم وړانديز په وړاندي کولو سره په رسمي توګه خپل کار پای ته ورساوه. د افغانستان د ټاکنو او خپلواک کميسيون موسسه (فيفا) د وړانديزونو په ليکلو کي د دغه کميسيون له هڅو ځخه هرکلی کوي او د افغانستان له حکومت ځخه غواړي ترڅو د دغو وړانديزونو په پلي کولو کي بنسټيز ګامونه پورته کړي.

د ملي يووالي حکومت د ټاکنيزو اصلاحاتو په پلي کولو کي د کړو ژمنو له مخي بايد د ټاکنيز نظام د ځانګړو اصلاحاتو د کميسيون وړانديزونه پلي کړي. اوس چې ټول وړانديزونه حکومت ته رسېدلي، فيفا د ملي يووالي حکومت له مشرتابه ځخه غواړي ترڅو د دغو وړانديزونو د پلي کولو لپاره ګامونه پورته کړي او پلي کېدو ته يې لار هواره کړي او هم په دې برخه کي له ټولو دولتي مسوولو ادارو ځخه وغواړي ترڅو د اصلاحاتو د کميسيون وړانديزونو په پلي کېدو کي همکاري وکړي. فيفا همدارنګه له حکومت ځخه غواړي ترڅو د ستري محکمې په همغږۍ د اساسي قانون د ۱۰۹مې مادې ځخه څرګند تفسير او د ولسمشر د فرمان ردولو په اړوند د ولسي جرګې کړنه وپلټي او مشخص کړي چې پارلمان په اوسنيو شرايطو کي د فرمان ردولو صلاحيت لري که نه.

فيفا د ولسي جرګې لخوا د «ټاکنيزو کميسيونونو د جوړښت، دندو او صلاحيتونو» په اړوند د ولسمشر تقنيني فرمان له ردولو سره خپله ژوره اندېښنه څرګندوي. دغه فرمان د هېواد د حساس وضعيت په پام کي نيولو سره په هېواد کي د ټاکنيزو اصلاحاتو راوستلو په برخه کي يو پر ځای ګام ګڼل کېده. د جرګې غړو له بده مرغه چې د خلکو د غوښتنو په خلاف هغه بهير ته چې په هېواد کي يې سياسي ټيکاو او ډموکراسۍ پياوړي کوله، منفي رايه ورکړه. دا په داسي حال کي ده چې څو مياشتي مخکي کله چې د ولسي جرګې د تقنين کمېټي د ټاکنيزو کميسيونونو د جوړښت، دندو او صلاحيتونو په قانون کي د تعديلاتو مخليکنه جوړه او جرګې ته يې معرفي کړه، زياترو استازو د اساسي قانون د ۱۰۹مې مادې پر بنسټ د دغو تعديلاتو پر وړاندې اعتراض وکړ او دا مسوده په عمومي غونډه کي رايې اخيستنې ته وړاندې نشوه. د ولسي جرګې په کړنو کي دغه توپير له بده مرغه ښيي چې وکيلان د ټاکنيزو اصلاحاتو او ملي شورا د ټاکنو کېدو په هکله د خلکو او موکلينو غوښتنو ته پاملرنه نه کوي او هم له دغه بندون ځخه د وتلو لپاره کوم لاره چاره هم نه لري. فيفا د ملي شورا له مشرانو جرګې ځخه په درناوي غوښتنه کوي چې د هېواد حساسو شرايطو او ببړنيو اصلاحاتو او د ملي شورا ټاکنو کېدو په پام کي نيولو سره د ټاکنيزو اصلاحاتو په اړوند د خلکو غوښتنو ته هرکلی ووايي او د ولسي جرګې چلند ونه کړي او د ولسمشر د تقنيني فرمان د غور او کتنې په پراو کي د ټاکنيزو اصلاحاتو له بهير ځخه ملاتړ وکړي.

فيفا د ټاکنو بنسټيزو اصلاحاتو بهير يوه ببړنۍ اړتيا بولي او په دې برخه کي له ټولو ګامونو ځخه ملاتړ کوي. که ځه هم د ټاکنيزو اصلاحاتو ځانګړي کميسيون د تخنيکي همکارۍ په اړوند د فيفا پرلپسي غوښتنې سربېره مخکي له دې چې وړانديزونه حکومت ته وړاندې کړي هغه يې د ټاکنيزو اړوند بنسټونو سره شريک نه کړل، خو بيا هم فيفا له دغه بهير ځخه ملاتړ کوي او د اصلاحاتو کميسيون د وړانديزونو په پلي کولو کي تخنيکي او تسهيلاتي همکاريو ته تيار دی. د يادونې وړ ده چې د ټاکنيزو وړانديزونو دويمې کڅوړې د محتوا په هکله د فيفا دريځ به د هغې له هراړخيزې لوستنې او کتنې وروسته له رسنيو او خلکو سره شريک کړای شي.

و من الله توفيق

له موږ سره اړيکه:
۰۷۹۶۵۳۴۹۸۶
۰۷۰۰۲۲۵۸۳۱
۰۷۷۴۵۷۳۳۳۳

«د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه - فيفا» يو غيردولتي او غيرانتفاعي مدني بنسټ دی چې په ۲۰۰۴ زېږديز کال کي د مدني ټولنې يوشمېر فعالينو پر مټ تاسيس شو او په اقتصاد وزارت کي ثبت او راجسټر شوی دی. د فيفا د موخو له مخې دغه بنسټ هڅه کوي ترڅو په ټاکنو کي د رايې ورکونې د شرايطو وړ ټول وګړي په دغه بهير کي ونډه واخلي او د ټاکنو په بهير کي له يو شان فرصتونو ځخه برخمن وي ترڅو د افغانستان ټاکنې په دموکراټيکه، ازاده او رڼه توګه تر سره شي. فيفا د يوه ملي، خپلواک او بې پرې بنسټ په توګه هڅه کوي ترڅو ډاډ ورکړي چې په هېواد کي ټول ملي او ډموکراټيک بهيرونه د شبکه جوړوني، د وګړو فعال ګډون او ښې حکومتولی سره په رڼه توګه تر سره کېږي.

پته: ۱۳شمېره کور، د خوارزمي لوړو زده کړو موسسي ته ځېرمه، د نجارۍ حجاري کوڅه- دهمزنګ، د دارالامان سرک، کابل- افغانستان؛

media@fefa.org.af
www.fefa.org.af